په ساده ژوند کې ستره واکمني

دا کتاب د سعودي عربستان د پخواني پاچا، شاه فیصل بن عبدالعزیز «رحمه‌الله» ژوند، فکر او کارنامې څېړي.



لیکوال: جوهر جبران

کال: ۱۳۹۸ هـ.ش

په ساده ژوند کې ستره واکمني

لیکوال: جوهر جبران

کال: ۱۳۹۸هـ.ش





د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: په ساده ژوند کې ستره واکمني

لیکوال: استاد جوهر جبران

خپرندوی: جبران شخصي کتابتون

کمپوز: په خپله لیکوال

ډیزاین: انجنیر ګوهر جبران

چاپ کال: ۱۳۹۸ ل

د چاپ شمېر: ۱۰۰

د چاپ لړ: (۲۱)

د چاپ وار: لومړی

+93 707604044 : واټساپ او اړیکه

ترلاسه کیدو ځای

لړلیک

عنوان **مخ**

لومړی څپرکی

سریزه

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله یوازې د واک او شتمنۍ خاوند نه و، بلکې د ساده ژوند یوه بې ساري بېلګه وه. عربي سرچینې ښیي چې هغه به ډېر وخت عادي عربي کالي اغوستل، له تجملي ماڼیو سره مینه نه درلوده او خپل ژوند یې د دیني تربیې او تقوا پر بنسټ تنظیم کړی و. دغه ساده‌ګي د خلکو په زړونو کې باور لا زیات کړی و، ځکه یې ښودله چې واک او شتمني د شخصیت اصلي ارزښت نه دی (Lacey, 2009).

شاه فیصل د شپې ناوخته وینښ پاتې کېده او د هېواد د اسنادو، راپورونو او لیکونو مطالعه به یې په خپله کوله. هغه باور درلود چې مشر باید د هېواد هره خبره خپله درک کړي او یوازې د سلاکارانو پر خبرو تکیه ونه کړي.(Vassiliev, 2013)

د لوېدیځو مشرانو سره د خبرو پر مهال شاه فیصل تل مؤدب او کلک دریځ درلود. روایت دی چې کله یوه لوېدیځه ډیپلوماټ ترې د اسرائیلو د ملاتړ غوښتنه وکړه، نوموړي په ساده خو قوي جمله ځواب ورکړ: «موږ خپله قبله نه شو بدلولای.» دا جمله د هغه د قوي اسلامي هویت او اصولو څرګندونه ده.(Al-Rasheed, 2010)

شاه فیصل د انګلیسي ژبې پوهه لرله، خو بیا هم په رسمي غونډو کې یې هڅه کوله چې عربي وکاروي. هغه عربي ژبه د اسلامي هویت او فرهنګي خپلواکۍ نښه ګڼله او باور یې درلود چې مشر باید خپلې ژبې ته ویاړ ولري.(Al-Farsy, 2001)

د ۱۹۷۳م کال د تېلو بندیز د شاه فیصل یوه مشهوره پرېکړه وه، چې یوازې اقتصادي اقدام نه و، بلکې د اسلامي اخلاقي اصولو څرګندونه یې هم وه. نوموړي ویلي و: «هغه تېل چې د مسلمانانو پر ضد د وسلې په توګه کارول کېږي، موږ یې نه شو پلورلای.» دغه دریځ د هغه د نړیوال سیاست، اخلاقي مسؤلیت او د اسلامي نړۍ د ملاتړ نښه وه.(Yergin, 2011)

شاه فیصل د چاپلوسۍ سخت مخالف و. هغه به خپلو وزیرانو ته ویل چې رښتیا ووایئ، که څه هم تریخ وي. عربي لیکوالان ټینګار کوي چې د همدې اصل له امله ډېر خلک هغه عادل او رېښتینی مشر ګڼي.(Vassiliev, 2013)

د ښځو د زده کړې په اړه شاه فیصل داسې فکر درلود چې هم د زمان غوښتنو ته ځواب وو او هم د دیني ارزښتونو ساتنه وکړي. هغه ویلي و: «هغه مور چې لوستې نه وي، راتلونکی نسل نیمګړی روزي.» دغه فکر د هغه اصلاحپال او روښانه فکر ښکاره بېلګه ده.(Al-Farsy, 2001)

یو له کمویل شویو حقایقو څخه دا دی چې شاه فیصل څو ځله د وژنې له ګواښونو سره مخ شوی و، خو بیا هم خپل امنیت محدود ساته، ځکه یې باور درلود چې که واکمن له ولسووېرېږي، نو واک یې اخلاقي مشروعیت له لاسه ورکوي (Lacey, 2009).

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله د شلمې پېړۍ له هغو اسلامي مشرانو څخه و چې سیاست یې له دین، عدالت او اخلاقي مسؤلیت سره وتاړه. هغه د سعودي عربستان د پاچا په توګه نه یوازې کورني اصلاحات ترسره کړل، بلکې د اسلامي امت په کچه یې د وحدت، خپلواکۍ او عزت غږ پورته کړ.(Al-Rasheed, 2010)

شاه فیصل په داسې نړیوال پړاو کې واک ته ورسېد، چې اسلامي هېوادونه د استعماري فشارونو، سیاسي کمزورۍ او داخلي اختلافاتو سره مخ وو. نوموړي هڅه وکړه چې د اسلامي هویت پر بنسټ سیاست ته نوی رُخ ورکړي او د لوېدیځو قدرتونو تر سیوري لاندې سیاست رد کړي.(Lacey, 2009)

ملک فیصل له هغو مهمو سیاستوالو څخه و چې په ۱۹۷۳ میلادي کال کې یې د نفتو د صادارتو هېوادونو د سازمان (OPEC) په چوکاټ کې لوېدیځو هېوادونو ته د نفتو د صادرولو د بندولو پرېکړه وکړه. دا پرېکړه د لوېدیځو هېوادونو لهخوا د اسرائیلو د ملاتړ پر وړاندې غبرګون و، کوم چې د یوم‌الکیپور د جګړې (۱۹۷۳) پر مهال د مصر او سوریې پر ضد ترسره شو (OPEC, n.d.; Cleveland & Bunton, 2016).

په کورني سیاست کې، ملک فیصل د جده بندر ملي کړ او د نورو عربي هېوادونو د سوداګرو ازاد تجارت یې محدود کړ، څو کورنی اقتصاد او ملي سوداګري پیاوړې شي (Encyclopaedia Britannica, 2024). همدارنګه، د ۱۹۷۴ کال په فبرورۍ کې د اسلامي کنفرانس جوړېدل د هغه په نوښت د پاکستان په کوربه‌توب ترسره شول. د دې کنفرانس پرېکړه‌لیک د عربي هېوادونو د اساسي آرمانونو ملاتړ وکړ او تر ټولو مهمه دا چې د فلسطین د آزادۍ سازمان (PLO) د لومړي ځل لپاره د فلسطین د خلکو د یوازیني مشروع استازي په توګه په کنفرانس کې ګډون وکړ (Cleveland & Bunton, 2016).

ملک فیصل په ۱۹۷۴ میلادي کال کې د Time مجلې لهخوا د «کال سړی» وټاکل شو (Time Magazine, 1974). هغه د سعودي عربستان د عصري کېدو له مخکښانو څخه و او د راډیو او تلویزیون د بنسټونو له مؤسسانو شمېرل کېږي. د

دې نوې ټکنالوژۍ پر وړاندې په پیل کې د علماوو مخالفت موجود و، خو ملک فیصل د هغوی د رضایت لپاره د قرآنکریم تلاوت خپور کړ، چې وروسته علماوو د ټکنالوژۍ کارولو ته اجازه ورکړه (Encyclopaedia Britannica, 2024).

وروسته، د هغه یو وراره د یو شمېر کسانو سره د تلویزیون پر مرکز برید وکړ او لږ زیان یې واړاوه. ملک فیصل د دې پېښې عاملینو ته د سختې سزا، حتی د اعدام حکم صادر کړ. بالاخره، ملک فیصل د ۱۹۷۵ کال د مارچ پر ۲۵ مه د خپل وراره، فیصل بن مساعد، لهخوا ترور شو (Encyclopaedia Britannica, 2024).

دغه کتاب د شاه فیصل د ژوند، اصلاحاتو، سیاسي فکر او اسلامي دریځ علمي څېړنه وړاندې کوي، څو لوستونکي وکولای شي د هغه له تجربو څخه د مشرتابه، سیاست او اسلامي مسؤلیت په برخه کې درس واخلي.

دوهم څپرکی

د شاه فیصل زېږون او کورنی شالید

ملک فیصل بن عبدالعزیز بن عبدالرحمن بن فیصل بن ترکی بن عبدالله بن محمد بن سعود بن محمد بن مقرن آل سعود

(۱۴ اپرېل ۱۹۰٦ – ۲۵ مارچ ۱۹۷۵) د ملک عبدالعزیز درېیم زوی و. ملک عبدالعزیز د سعودي عربستان د پاچاهۍ بنسټګر و، او ملک فیصل د آل سعود له کورنۍ څخه د دې هېواد درېیم پاچا و چې د ۱۹٦۴ څخه تر ۱۹۷۵ میلادي کلونو پورې یې واکمني وکړه. هغه د خپل نه مخکې پاچا (ملک سعود) او له ځان وروسته څلورو پاچاهانو (ملک خالد، ملک فهد، ملک عبدالله او ملک سلمان) ورور و (Encyclopaedia Britannica, 2024).

شاه فیصل بن عبدالعزیز آل سعود په ۱۹۰٦م کال کې د سعودي عربستان په ریاض ښار کې وزېږېد. هغه د پاچا عبدالعزیز بن سعود زوی و، چې د سعودي معاصر دولت بنسټګر ګڼل کېږي. د هغه کورنۍ د دیني ارزښتونو، سیاسي مبارزې او مشرتابه له پلوه ځانګړې حیثیت درلود.(Vassiliev, 2013)

د شاه فیصل مور، طرّفه بنت عبدالله، یوه متدینه او هوښیاره ښځه وه، چې د خپل زوی په دیني او اخلاقي روزنه کې یې مهم رول ولوباوه. د مور دغه تربیه د شاه فیصل په ټول ژوند کې د تقوا، ساده‌ګۍ او عدالت په بڼه څرګنده پاتې شوه (Al-Farsy, 2001).

شاه فیصل له ماشومتوبه د خپل پلار تر څنګ د دولتدارۍ له فضا سره بلد شو. هغه د سیاسي خبرو، قبایلي اړیکو او نړیوالو موضوعاتو په اړه ژوره پوهه تر لاسه کړه، چې وروسته یې د سیاسي پریکړو بنسټ وګرځېد.(Lacey, 2009)

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله په ۱۹۰٦م کال کې د سعودي عربستان په ریاض ښار کې وزېږېد. هغه په داسې کورنۍ کې ستر شو چې دین، سیاست او مشرتابه یکې ژور بنسټ درلود. د ده پلار، پاچا عبدالعزیز، د سعودي دولت بنسټګر و، او له همدې امله شاه فیصل له کوچنیتوب د دولتدارۍ له فضا سره بلد شو (Vassiliev, 2013).

د شاه فیصل مور، طرّفه بنت عبدالله، د هغه د ماشومتوب په روزنه کې ډېر مهم رول درلود. مور یې پر دیني اخلاقو، صداقت او ساده ژوند ټینګار کاوه. دا دیني او اخلاقي روزنه د شاه فیصل په شخصیت کې دومره ژوره اغېزه وکړه چې تر پایه یې د هغه په چلند او پرېکړو کې څرګنده پاتې شوه.(Al-Farsy, 2001)

شاه فیصل لا ماشوم و چې مور یې وفات شوه، او دا پېښه د هغه پر احساساتي ژوند ژور اغېز وکړ. د مور له لاسه ورکولو وروسته، هغه د خپل نیکه او نورو دیني عالمانو تر سرپرستۍ لاندې وروزل شو، چې د صبر، زغم او ځان‌بساینې ځانګړنې یې لا پیاوړې کړې.(Lacey, 2009)

د ماشومتوب پر مهال، شاه فیصل د قرآن کریم حفظ، حدیث، فقه او عربي ادب زده کړل. هغه له کوچنیتوب د مطالعې سره ځانګړې مینه لرله او د خپل عمر د ماشومانو په پرتله ډېر جدي او ارام طبیعت یې درلود، چې دا ځانګړنه وروسته د هغه د مشرتابه نښه وګرځېده.(Al-Rasheed, 2010)

شاه فیصل د خپل پلار له لوري ډېر ژر سیاسي مسؤلیتونو ته نږدې شو. روایت دی چې هغه به د ځوانۍ له کلونو وړاندې د قبایلي مشرانو ناستو ته حاضرېده او د خبرو اورېدو اجازه به یې لرله، څو د مشرتابه دودونه په عملي ډول زده کړي (Vassiliev, 2013).

د ماشومتوب له پړاو څخه شاه فیصل د نظم، خاموش فکر او ځان کنټرول ځانګړنې لرلې. هغه له لوبو او شور څخه ډېر د مطالعې او تفکر خوا ته مایل و. همدا ځانګړتیاوې وروسته د هغه د پیاوړي، زړور او حساب‌شوي سیاست بنسټ وګرځېدې.(Lacey, 2009)

درېیم څپرکی

زده کړې او د شخصیت جوړونه

شاه فیصل خپلې لومړنۍ زده کړې د اسلامي علومو، قرآن کریم، حدیث او فقهې په برخو کې تر سره کړې. هغه د دودیزو دیني مدرسو ترڅنګ له سیاسي تجربو څخه هم زده کړه وکړه، چې دا ترکیب د هغه شخصیت ته ځانګړی توازن ورکړ (Al-Rasheed, 2010).

نوموړي د ځوانۍ په کلونو کې د خپل پلار استازی په توګه بهرنیو هېوادونو ته سفرونه وکړل. دغه سفرونه د هغه نړیوال لید پراخ کړ او د لوېدیځ سیاست، ډیپلوماسۍ او قدرتي لوبو په اړه یې ژوره پوهه ترلاسه کړه.(Vassiliev, 2013)

شاه فیصل د نظم، زغم، صبر او ژور فکر څښتن و. هغه تل هڅه کوله چې پرېکړې د احساس پر ځای د عقل، دیني ارزښتونو او اوږدمهاله پایلو پر بنسټ وکړي (Al-Farsy, 2001).

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله د ژور فکر، وقار او خاموش شخصیت څښتن و. عربي تاریخپوهان لیکي چې هغه به لږ خبرې کولې، خو کله به چې یې خبرې کولې، نو د فکر، دلیل او حکمت ډکې به وې. د هغه دا عادت د دې لامل شوی و چې خلک یې خبرو ته په جدي ډول غوږ کېږدي (العثیمین، 2011).

د شاه فیصل له مهمو شخصیتي ځانګړنو څخه یوه کلکه دیني پابندي وه. د عربي سرچینو له مخې، هغه به د سختو سیاسي بوختیاوو سره سره لمونځ په وخت ادا

کاوه او د قرآن تلاوت یې د ورځې یوه مهمه برخه ګڼله. نوموړي سیاست د عبادت څخه جلا نه باله، بلکې سیاست یې د دین د خدمت وسیله ګڼله (الزرکلي، 2002).

عربي لیکوالان شاه فیصل یو زغمناک او حلیم انسان معرفي کوي. ویل کېږي چې هغه به د خپلو مخالفینو خبرې هم په حوصــله اورېدې او له غوســې څخه یې ځان ســاته. دا ځانګړنه د هغه د مشــرتابه ځواک ګڼل کېده، ځکه چې پرېکړې به یې د احساس پر ځای د عقل له مخې کولې (الریحاني، 2010).

د شاه فیصل په شخصیت کې د عدالت احساس خورا پیاوړی و. د عربي تاریخي روایتونو له مخې، هغه به ویل: «واکمن هغه وخت قوي وي، چې د کمزوري حق واخلي.» همدې اصل هغه دې ته اړ ایستلی و چې د شاهي کورنۍ پر ځینو غړو هم قانون عملي کړي، چې دا کار په عربي نړۍ کې کم‌ســاری بلل کېږي (الزبیدي، 2014).

له جالبو ټکو څخه دا هم دي چې شــاه فیصــل د چاپلوســۍ ســخت مخالف و. عربي ســرچینې یادونه کوي چې هغه به وزیرانو ته ویل: « که رښــتیا و نه وایئ، زما مرســتــه مــه کوئ.» دا دریځ د هغــه د صـــداقــت او ځــان‌بــاور ځرګنــدونــه کوي (العثیمین، 2011).

شاه فیصل دا سلامي عزت احساس ډېر ژور درلود. د فلسطین مسئله یې یوازې سیاسي موضوع نه، بلکې د ایمان برخه ګڼله. د عربي لیکوالانو په وینا، هغه به د بیت‌المقدس نوم په ډېر درنښت یاداوه او د اسرائیلو پر وړاندې یې دریځ د عقیدې مسئله بلله (الریحاني، 2010).

په عربي ژوندلیکونو کې راغلي چې شاه فیصل د ساده ژوند مینه‌وال و. که څه هم د شاهي کورنۍ غړی و، خو شخصي لګښتونه یې محدود وو او د دولت مال یې امانت باله. دا ساده‌ګي د هغه د اخلاقي لوړتیا نښه ګڼل شوې ده (الزرکلي، 2002).

شخصي ژوند

فیصل د رښتینولۍ، ژورې فروتنۍ، مهربانۍ او تدبیر له امله ډېر مشهور و. هغه زاهد انسان و او له تجملاتو او عیش‌ونوش څخه یې ځان لېرې ساته. فیصل بېلابېلې خوښې لرلې، چې له هغو څخه باز ساتنه (قوش‌بازي)، ښکار، ادبیات، مطالعه او شعر یادولی شو. همدارنګه هغه د نجد د کلنیو اخترونو او دودیزو جشنونو له سترو مینه‌والو څخه و.

فیصل به اوږدې کاري ساعتونه غوره کول، او کله چې په ۱۹٦۴ کال کې واک ته ورسېد او د دولت په چارو بوخت شو، نو ځینې شخصي علاقې یې پرېښودې.

فیصل په ۱۹٦۴ کال کې تر واک ته رسېدو وروسته ډېر ژر د نړیوالو عامه افکارو پام ځان ته راوګرځاوه. نیویارک ټایمز لیکلي وو چې فیصل داسې ښکاري لکه «له روډیارډ کېپلینګ د شعرونو له نړۍ او یا د هالیووډ د لوبغاړو له کوم کتابه راوتلی وي.»

د هغه قد نږدې شپږ فوټه و، چې له منځني قد څخه لوړ ګڼل کېده، خو بیا هم د خپل پلار عبدالعزیز او ورور سعود څخه لنډ و. فیصل د ساده لباس اغوستلو له امله هم پېژندل کېده، او ډېری وخت به یې، آن د بهرنیو چارواکو په حضور کې هم، دودیز عربي لباس اغوست.

ملک فیصــل څو مېرمنې لرلې. د هغه مېرمنې د سـعودي له ځواکمنو او نامتو کورنیو څخه وې، لکه د الکبیر، السـدیري، ال جیلووي او آل تونیان کورنۍ (Al-Rasheed, 2010).

د ملک فیصل مېرمنې داوې

سلطانه بنت احمد السدیري: د هغه د مشر زوی، شهزاده عبدالله مور وه. شهزاده عبدالله هغه مهال وزېږېد چې فیصل د ۱۵ او ۱۷ کلونو تر منځ عمر درلود. سلطانه د سدیري له کورنۍ وه او د حصه بنت احمد کشره خور وه، چې د سدیري وروڼو مور بلل کېږي.(Encyclopaedia Britannica, 2024)

عفت بنت محمد آل تونیان (۱۹۱۲–۲۰۰۰): هغه په ترکیه کې زېږېدلې او هلته لویه شـوې وه. د هغې نیکونه د آل سـعود د کورنۍ د آل تونیان له څانګې څخه وو. فیصـل او عفت شـاوخوا د ۱۹۳۲ کال په شـاوخوا کې په اسـتانبول کې ولیدل، هغه مهال چې فیصل ترکیې ته په رسمي سفر تللی و. دوی نهه اولادونه لرل، چې پکې شهزادګان محمد، سعود او ترکی شامل دي.(Al-Rasheed, 2010)

عفت بنت محمد د خپل مېړه له لوري د تر سره شوو ډېرو اصلاحاتو، په ځانګړي ډول د ښځو د تعلیم او ټولنیزو حقونو په برخه کې، تر شا مهم رول درلود (Riedel, 2017).

فیصـل د عفت کشـر ناسـکه ورور، کمال ادهم، هم وروزاوه او وروسـته یې هغه د سـعودي عربسـتان د عمومي اسـتخباراتو (المخابرات العامه) د لومړي مشـر په

توګه وټاکه. کمال ادهم د فیصـل له مهمو سـلاکارانو څخه هم و (Cleveland & Bunton, 2016).

الجوهره بنت سـعود آل کبیر: هغه د فیصـل د ترور لور وه. دوی د ۱۹۳۵ کال د اکتوبر په میاشـت کې واده وکړ. له دې مېرمنې څخه فیصـل یوه لور درلوده چې مشاعل نومېده (وفات: اکتوبر ۲۰۱۱).(Al-Rasheed, 2010)

حیا بنت ترکی بن عبدالعزیز آل ترکی: د شهزادګانو نورا، سعد او خالد مور وه او د ال جیلووي قبیلې غړې وه. شـهزادګۍ نورا بنت فیصـل د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۱۳ مه وفات شوه.(Encyclopaedia Britannica, 2024)

حصـه بنت محمد بن عبدالله آل محنه ابا الخیل: د شـهزادګیو العنود (وفات: جون ۲۰۱۱) او الجوهره (وفات: اپرېل ۲۰۱۴) مور وه.(Al-Rasheed, 2010)

منیره بنت سهیم بن هیتیمی آل تونیان آل ماهاشر: د شهزادګۍ هسا مور وه، چې د ۲۰۲۰ کال په ډسمبر کې وفات شوه.(Riedel, 2017)

فاطمه بنت عبدالعزیز بن مشـیط الشـهراني: د شـهزادګۍ منیره مور وه، چې په ځوانۍ کې وفات شوه.(Al-Rasheed, 2010)

اولادونه او د هغوی رول

د ملک فیصل اولادونه ښه لوستي او د سعودي په ټولنه او دولت کې یې مهم رولونه درلودل. د هغه لوڼو په بهرنیو هېوادونو کې زده کړې کړې او د نړۍ له بېلابېلو ښـوونځیو او پوهنتونونو څخه فارغې شـوې (Cleveland & Bunton, 2016). زامنو

يې هم بهر تحصـيل کړی و. دا په داسې حال کې وه چې د ملک سـعود له ۱۰۸ اولادونو څخـه يوازې شـپږ تنـه د لېسـې تر کچې زده کړې لرلې (Al-Rasheed, 2010).

د فيصل زوی ترکي په نيوجر سي کې په معتبرو ښوونځيو کې زده کړې وکړې او وروسته يې د جورج ټاون پوهنتون ته لاره وموندله. بل زوی يې سعود د پرنسټن پوهنتون فارغ و. (Riedel, 2017).

د فيصل زامنو لوړې دولتي دندې لرلې:

مشر زوی عبدالله د دولت په بېلابېلو ادارو کې کار وکړ.

خالد تر درې لسـيزو زيات د عسـير ولايت والي و او په ۲۰۰۷ کال کې د مکې د ولايت والي شو.

شهزاده سعود د ۱۹۷۵ څخه تر ۲۰۱۵ پورې د سعودي د بهرنيو چارو وزير و.

شهزاده ترکی د استخباراتو مشر، بيا په بريتانيا او وروسته په امريکا کې د سفير په توګه دنده ترسره کړه. (Encyclopaedia Britannica, 2024).

عبدالرحمن د سـنډهرسـټ له پوځي اکاډمۍ فارغ و او د ۲۰۱۴ کال په مارچ کې وفات شو. محمد د سوداګرۍ په برخه کې فعال و. (Al-Rasheed, 2010).

د فيصـل لوڼو هم په ټولنه کې مهم رول درلود. د هغه لور سـارا د ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۶ پورې د مشـورتي شـورا غړې وه او د ښـځو د تعليم او ټولنيزو چارو فعاله

ملاتړې ده. د هغې خویندې، لولوه، لطیفه او هیفا هم د ښځو د حقونو په برخه کې پیژندل شوې څېرې دي.(Riedel, 2017)

شهزادګۍ هیفا د شهزاده بندر (د سلطان زوی) سره واده کړې وه. دا واده د دې لامل شو چې شهزاده بندر د شاهي کورنۍ د رسمي غړي په توګه وپېژندل شي.

شهزادګۍ لولوه د ښځو د تعلیم له مخکښو فعالانو څخه وه. په ۱۹۶۲ کال کې د فیصل لور سارا د «النهضه» په نوم خیریه بنسټ جوړ کړ، چې په ۲۰۰۹ کال کې یې د بشري حقونو نړیواله جایزه (Chaillot Prize) ترلاسه کړه (Cleveland & Bunton, 2016).

د فیصل لمسۍ ریم بنت محمد په جده کې انځورګره او د هنري ننداړتون څښتنه ده، او بله لمسۍ یې ریما بنت بندر د سعودي عربستان لومړنۍ ښځینه سفیره ده (Encyclopaedia Britannica, 2024).

ژبې او شخصیت

ملک فیصل د خپلو ډېرو ناسکه وروڼو پر خلاف، په انګلیسي او فرانسوي ژبو خبرې کولې. خو هغه عربي ژبې ته لومړیتوب ور کاوه او که به ژباړ نانو کومه تېروتنه کوله، خپله به یې سموله (Al-Rasheed, 2010).

څلورم څپرکی

واک ته رسېدل

شاه فیصل په ۱۹٦۴م کال کې د سعودي عربستان د پاچا په توګه وټاکل شو. دا ټاکنه د هېواد د سیاسي ثبات او اصلاحاتو لپاره مهمه مرحله وه، ځکه چې هېواد له اقتصادي او اداري ستونزو سره مخ و.(Lacey, 2009)

د واک تر لاسه کولو وروسته، شاه فیصل ژر تر ژره د دولت د نظم، مالي شفافیت او اداري اصلاحاتو لپاره ګامونه پورته کړل. هغه د دولت د عوایدو سم مدیریت ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د فساد پر وړاندې یې جدي دریځ غوره کړ (Al-Rasheed, 2010).

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله د سعودي عربستان په سیاسي نظام کې له ډېر پخوا څخه فعال رول درلود. عربي تاریخپوهان لیکي چې هغه د خپل پلار، پاچا عبدالعزیز، د ژوند پر مهال د مهمو دولتي چارو مسؤلیتونه پر غاړه درلودل، لکه د بهرنیو چارو اداره او د دولت استازیتوب په نړیوالو غونډو کې. همدې تجربو هغه د واکمنۍ لپاره چمتو کړی و (العثیمین، 2011).

له پاچا عبدالعزیز تر وفات وروسته، واک لومړی د پاچا سعود بن عبدالعزیز لاس ته ولوېد، خو د هغه د واکمنۍ پر مهال هېواد له جدي مالي، اداري او سیاسي ستونزو سره مخ شو. عربي سرچینې څرګندوي چې د دولت بې‌نظمي، مالي بحران او اداري کمزورتیا د دې لامل شوه چې د شاهي کورنۍ مشران او دیني علما د بدیل په لټه کې شي (الزرکلي، 2002).

شاه فیصل په همدې پړاو کې د صدراعظم او ولیعهد په توګه د اصلاحاتو مشري پر غاړه واخیستــه. هغه هڅه وکړه چې د دولت مالي نظم ټینګ کړي او د شــاهي لګښــتونو مخه ونیسـي. عربي تاریخپوهان یادونه کوي چې شـاه فیصـل د شـاهي کورنۍ له فشارونو سره سره د دولت د ګټو دفاع وکړه، چې دا کار د هغه پر سیاسي اعتبار نور هم ورزیات کړ (الریحاني، 2010).

کله چې د پاچا سـعود او شــاه فیصــل ترمنځ اختلافات زیات شــول، د سـعودي لوړپوړو علماوو، د شاهي کورنۍ مشرانو او د هېواد مخورو شخصیتونو ګډه پرېکړه وکړه چې د هېواد د ثبات لپاره باید واک شـاه فیصـل ته وسـپارل شـي. دا پرېکړه د اسـلامي فقهې، بیعت او مشـورې (شـورا) پر اصـل ولاړه وه، نه پر زور یا پوځي کودتا (العثیمین، 2011).

په ۱۳۸۴هــ ق / ۱۹۶۴م کال کې، د سعودي عربستان علماوو په رسمي فتوا سره پاچا سـعود له واکه لیرې کړ او شــاه فیصــل ته یې بیعت ورکړ. عربي ســرچینې ټینګار کوي چې دا بدلون د علماوو، شاهي کورنۍ او ولسي ملاتړ پر بنسټ ترسره شو، چې دا کار یې د مشروعیت بنسټ پیاوړی کړ (الزرکلي، 2002).

د واک تر ترلاســه کولو وروسـته، شـاه فیصـل په خپله لومړنۍ وینا کې اعلان وکړ چې د هغه اســاســي موخه به د شــریعت پلي کول، عدالت ټینګول او د دولت نظم بحالول وي. عربي لیکوالان دا وینا د هغه د اصلاحپال سیاست پیل بولي، ځکه چې له همدې ځایه د سـعودي دولت د نوې مرحلې بنســټ کېښــودل شــو (الزبیدي، 2014).

ولیعهدۍ او لومړۍ وزیرۍ

د ملک فیصل پلار، ملک عبدالعزیز، د ۱۹۵۳ کال د نومبر په ۹ مه وفات شو (Encyclopaedia Britannica, 2024). له هغه وروسته د فیصل مشر ناسکه ورور، ملک سعود، د سعودي عربستان پاچا شو او فیصل د ولیعهد په توګه وټاکل شو. نوموړی د ۱۹۵۴ کال د اګست په ۱۲ مه د لومړي وزیر په توګه هم وټاکل شو.

فیصل په ۱۹۵۸ کال کې د اقتصادي پراختیا کمېټه جوړه کړه. هغه د ۱۹۶۱ کال په ترڅ کې د مدینې اسلامي پوهنتون په جوړولو کې مهم رول درلود. همدارنګه، په ۱۹۶۲ کال کې یې د «نړیوال اسلامي اتحاد (Muslim World League)» په جوړولو کې مرسته وکړه، چې دا یوه نړیواله خیریه اداره ده او د راپورونو له مخې د سعودي شاهي کورنۍ له لوري ورته له یو میلیارد ډالرو څخه زیاته مرسته شوې ده (Cleveland & Bunton, 2016). په ۱۹۶۳ کال کې فیصل د سعودي عربستان لومړنی تلویزیوني سټېشن جوړ کړ، چې رسمي خپرونې یې په ۱۹۶۵ کال کې پیل شوې. (Encyclopaedia Britannica, 2024).

فیصل د ۱۹۶۳ کال په لومړیو کې، د ملک سعود د ناروغۍ له امله له هېواد څخه د هغه له نشتون څخه ګټه واخیسته او د هېواد د خرابو سیاسي او اقتصادي شرایطو په رڼا کې یې خپل نفوذ زیات کړ. هغه د سعود ډېر پلویان له دندو لرې کړل او خپل همفکره وروڼه او شهزادګان یې په مهمو پوځي او امنیتي بستونو له دې جملې څخه یو یې د هغه ناسکه ورور، شهزاده عبدالله و، چې په ۱۹۶۲ کال کې یې د ملي ګارد مشري ورته وسپارله. (Encyclopaedia Britannica, 2024).

کله چې ملک سعود بېرته هېواد ته راستون شو، د فیصل اصلاحات یې رد کړل او د ټولو واکونو د بېرته اخیستو غوښتنه یې وکړه. په ځواب کې، فیصل د شاهي کورنۍ مشران، علما او د قبایلو مشران یوې جرګې ته راوبلل. په پایله کې، دې جرګې د فیصل ملاتړ وکړ او پرېکړه یې وکړه چې ملک سعود باید له واکه لیرې شي او فیصل پاچا شي.(Cleveland & Bunton, 2016)

د سعودي ستر مفتي، محمد بن ابراهیم آل‌الشیخ، چې د فیصل د مور له اړخه تره‌زوی و، فتوا صادره کړه او له ملک سعود څخه یې وغوښتل چې واک خپل ورور ته وسپاري .بالاخره، ملک سعود تسلیم شو او د ۱۹۶۴ کال د نومبر په ۲ مه فیصل د سعودي عربستان پاچا اعلان شو، او سعود وروسته تبعید ته ولاړ (Encyclopaedia Britannica, 2024).

د غلامۍ لغوه کول

ملک فیصل په ۱۹۶۲ کال کې په سعودي عربستان کې د غلامۍ د بشپړې لغوه کولو فرمان صادر کړ. د بي‌بي سي خبریال پیټر هابدي ویلي چې په هغه وخت کې شاوخوا ۱۶۸۲ غلامان آزاد شول او د هر غلام د آزادۍ لګښت شاوخوا ۲۰۰۰ امریکایي ډالر و .(BBC, 1962) سیاسي شنونکي بروس ریدل ویلي چې د غلامۍ د لغوه کولو موضوع د ۱۹۴۵ کال وروسته د امریکا له‌خوا راپورته شوه او بالاخره ولسمشر جان اف. کندي په ۱۹۶۲ کال کې د آل سعود کورنۍ دې کار ته وهڅوله.(Riedel, 2017)

پاچاهي

د پاچا کېدو وروسته، د فیصل له لومړنیو ګامونو څخه یو دا و چې د راتلونکي جانشینۍ لپاره یې ځانګړې شورا جوړه کړه. د دې شورا غړي د هغه ترونه او ناسکه ورونه، لکه خالد، فهد، عبدالله، سلطان او نواف وو) .فیصل په ۱۹۶۷ کال کې د دوهم لومړي وزیر څوکۍ جوړه کړه او شهزاده فهد یې دې دندې ته وټاکه. د سعودي عربستان د ملي بیرغ رسمي کارونه هم د هغه د واکمنۍ پر مهال، د ۱۹۷۳ کال د مارچ په ۱۵ مه تنظیم شول.(Al-Rasheed, 2010)

د فیصل له مهمو سلاکارانو څخه یو، رشاد فرعون، د هغه د پلار شخصي ډاکټر و. همدارنګه، ستر مفتي محمد بن ابراهیم آل‌الشیخ د هغه له نږدې سلاکارانو څخه و او د پاچا د سیاسي دریځ په جوړولو کې یې مهم رول درلود.

فیصل دا پرېکړه هم وکړه چې د شاهي کورنۍ ټول غړي باید خپل اولادونه د هېواد دننه زده کړو ته ولېږي. هغه د سعودي عربستان د اداري سیمو او سنی سیستم رامنځته کړ او د معاصر رفاهي نظام بنسټ یې کېښود. په ۱۹۷۰ کال کې یې د عدلیې وزارت جوړ کړ او د هېواد لومړنی پنځه کلن اقتصادي پراختیایي پلان یې پیل کړ .(Encyclopaedia Britannica, 2024)

که څه هم د ټولنیزو بدلونونو له امله ځینې مخالفتونه موجود وو، خو ملک فیصل د عربستان د نو سازۍ، د مکې او مدینې د ښه مدیریت، د صهیونیزم پر وړاندې د هغه د سخت دریځ او د سعودي اقتصاد د چټکې ودې له امله د عربي نړۍ درناوی ترلاسه کړ (Cleveland & Bunton, 2016).

د شاه فیصل په اړه د سیاسي مشرانو او ولسمشرانو نظریات

۱ . د امریکا د ولسمشرانو دریځ

د امریکا پخواني ولسمشر ریچارد نیکسن شاه فیصل ته د یوه ځواکمن، هوښیار او پر اصولو ټینګ مشر په سترګه کتل. نیکسن ویلي و:

"King Faisal was a leader of profound wisdom and deep commitment to his people and the Islamic world."

یعنې شاه فیصل یو داسې مشر و چې د خپلو خلکو او اسلامي نړۍ په وړاندې ژوره پوهه او ژمنتیا درلوده.(Nixon, 1980)

همدارنګه د امریکا پخواني ولسمشر جیمی کارتر یادونه کړې چې شاه فیصل د تیلو د نړیوال سیاست په برخه کې ستر او هوښیار ډیپلومات و، او د فلسطین د قضیې د ملاتړ لپاره یې ستر نړیوال دریځ ساتلی و.(Carter, 2010)

۲. د لویدیځو ډیپلوماټانو نظر

د بریتانیا ډیپلوماټان شاه فیصل ته د قوي اصولو خاوند بللی و. د لندن پخواني سفیر وویل:

"King Faisal combined firmness with politeness; he could be uncompromising on matters of principle while maintaining great personal dignity."

يعنې شاه فيصل به په اصولو کلک و، خو تل مؤدب و او د خپل شخصيت د وقار ساتنه يې کړې وه.(Vassiliev, 2013)

۳. د اسلامي هېوادونو مشران

د عربي متحده اماراتو پخواني ولسمشر زايد بن سلطان النهيان د شاه فيصل په اړه ويلي و:

King Faisal was a beacon for the Islamic world, uniting nations through justice and moral leadership."

يعنې شاه فيصل د اسلامي نړۍ لپاره يوه روښانه لارښود وه چې ملتونه يې د عدالت او اخلاقي مشرتابه له لارې متحد کړل.(Al-Rasheed, 2010)

د مصر پخواني ولسمشر انور سادات هم شاه فيصل د فلسطين د قضيې کلک ملاتړی ګڼلی او ويلي يې و چې هغه په نړيواله کچه د اسلامي نړۍ د موقف پياوړتيا لپاره ډېرې هڅې وکړې.(Al-Farsy, 2001)

۴. د نړيوالو سياسي څېړونکو او تاريخ پوهانو نظر

د نړيوالو سياست پوهانو په نظر، شاه فيصل د اسلامي نړۍ د مشرتابه يوه ډېره نمونه وه. د امريکا سياست پوه دان يرګن (Daniel Yergin) ليکي:

Faisal skillfully used oil as a tool of political leverage while maintaining his moral and ethical stance."

يعنې شاه فيصل تېل د سياسي ځواک د وسيلې په توګه په هوښيارۍ وکارول، خو د اخلاقي اصولو څخه يې تېر نه شو.(Yergin, 2011)

۵. د شخصيت او مشرتابه ځانګړتياوې

د نړيوالو مشرانو له خبرو څرګنديږي چې شاه فيصل د ساده ژوند، ريښتينولۍ او د خلکو د هوساينې لپاره د قربانۍ خاوند و. د برتانيې پخواني سفير يادونه کړې چې شاه فيصل به خپل وخت په رسمي اسنادو او راپورونو کې تېرولو، او تل به د خپل ولس لپاره د بشپړ معلوماتو پر بنسټ پرېکړې کولې.(Vassiliev, 2013)

٦. د نړيوالو اړيکو پر دريځ

نړيوال مشرانو شاه فيصل ته د اصولو، اسلامي هويت او کلک دريځ لرونکي مشر په سترګه کتل. د هغه سياسي دريځ د اسلامي نړۍ د ملاتړ، د فلسطين قضيه او د اسلامي وحدت لپاره مهم ګڼل شوی دی. عربي او نړيوالې سرچينې دا څرګندوي چې شاه فيصل د نړيوالو اړيکو په جوړولو کې خپلواک او د اصولو پر بنسټ عمل کاوه.(Al-Rasheed, 2010)

د شاه فیصل په اړه د عربي پوهانو نظریات

۱ د اصلاحاتو پر وړاندې دریځ

عربي پوهان ټینګار کوي چې شاه فیصل د سعودي عربستان د عصري کولو او اصلاحاتو په برخه کې ځانګړی رول درلود. د عبدالله العثیمین په وینا، شاه فیصل هڅه کوله چې د اسلامي اصولو او عصري دولت ترمنځ توازن رامنځته کړي، څو هېواد عصري شي خو د دیني ارزښتونو ساتنه هم وکړي (العثیمین، 2011).

۲ د اسلامي وحدت او فلسطین ملاتړ

محمد الرشید لیکي چې شاه فیصل په اسلامي نړۍ کې د وحدت هڅو ته ځانګړی پام درلود. هغه د فلسطین قضیه یوازې سیاسي نه بلکې د اسلامي امت د هویت او عقیدې مسئله ګڼله. عربي پوهانو دا دریځ د شاه فیصل د اسلامي مشرتابه ځانګړې نښه ګڼلې ده.(Al-Rasheed, 2010)

۳د اخلاقي سیاست اهمیت

امین الرحیاني یادونه کوي چې شاه فیصل سیاست د اخلاقي مسؤلیت سره وتاړه. هغه به تل ټینګار کاوه چې واکمن باید د خپل ولس د خیر لپاره عمل وکړي او له چاپلوسۍ او فریب څخه ډډه وکړي. عربي لیکوالان یې دا ځانګړنه د هغه د عدالت، ریښتینولۍ او اخلاقي مشرتابه نښه ګڼي (الریحاني، 2010).

۴ د نړیوالو اړیکو پر دریځ

عبدالکریم الزبیدي په خپلو اثرونو کې لیکي چې شاه فیصل د لوېدیځو هېوادونو سره مؤدب، کلک او مستقل دریځ درلود. هغه د اسلامي ارزښتونو پر اساس خپلې خبرې کولې او له نړیوالو فشارونو پرته خپل موقف ساته. عربي پوهانو دا د هغه د ځواکمن شخصي هویت او د ملي عزت څرګندونه بللې ده (الزبیدي، 2014).

۵ د تېلو سیاست او نړیوال اغېز

عربي لیکوالان یادونه کوي چې شاه فیصل د تېلو په سیاست کې د اسلامي نړۍ د اقتصادي او سیاسي ځواک د ساتلو لپاره نوښتګر و. هغه د تېلو بندیز یوازې د اقتصادي فشار وسیله نه، بلکې د اسلامي اصولو او انساني ارزښتونو د ملاتړ وسیله ګڼله. دا د عربي پوهانو په نظر د هغه ستر نړیوال اغېز ښیي) الریحاني، 2010؛ Yergin, 2011).

٦ د تعلیم او ښځو د حقونو ملاتړ

فرحان الفارسي په خپل اثر کې لیکي چې شاه فیصل د ښځو د زده کړې ملاتړ کاوه، ځکه باور یې درلود چې د مور لوستنه د راتلونکي نسل د روزنې لپاره مهمه ده. عربي پوهانو دا د هغه اصلاحپال او پر مختللي فکر یوه څرګنده نښه ګڼلې ده.

(Al-Farsy, 2001)

۷ د شخصیت ځانګړتیاوې

عربي پوهان د شاه فیصل شخصي ځانګړتیاوې هم ستایلي دي. هغه به ساده ژوند کاوه، شپې ناوخته کار کاوه، د خپلو چارو مسؤلیت یې پخپله اخیست، او د خپلو خلکو لپاره د قربانۍ او صداقت مثال وګرځېد.

(العثیمین، 2011؛ Vassiliev, 2013).

۸ د تاریخ او نړیوالو لپاره میراث

عربي لیکوالان په دې باور دي چې شاه فیصل د اسلامي نړۍ لپاره د مشرتابه یو بې‌ساری میراث پرېښود. د هغه اصلاحات، سیاسي او اخلاقي دریځونه، د اسلامي وحدت هڅې او د نړیوالو اړیکو استقامت د معاصر اسلامي مشرانو لپاره د الهام سرچینه ده.(Al-Rasheed, 2010)

پنځم څپرکی

کورني اصلاحات او پرمختګ

شاه فیصل د سعودي عربستان د عصري کولو لپاره پراخ اصلاحات پیل کړل. د زده کړو پراختیا، د روغتیایي خدمتونو ښه کول، او د زیربناوو جوړول د هغه د واکمنۍ مهمې لاسته راوړنې وې.(Vassiliev, 2013)

اقتصادي پراختیا

ملک فیصل د نفتو له عوایدو څخه د اعظمي ګټې اخیستنې لپاره رو ښانه تګلارې غوره کړې. هغه د ارامکو (ARAMCO) له شرکت سره د ګټې د شریکولو تړون په بشپړه توګه وڅېړه، دا تړون یې ناعادلانه وباله او د بیا کتنې غوښتنه یې وکړه. له دې وروسته، دولت د نفتو د زېرمو د استخراج په تړونونو کې له مستقیم ګډون څخه لاس واخیست او پر ځای یې دولتي بنسټونو ته د انحصاري پانګونې امتیازونه ورکړل (Al-Rasheed, 2010).

کله چې د دولت په خزانه کې مالي ستونزې رامنځته شوې، فیصل خپله پاملرنه د صنعتي، کرنیزو، مالي او اقتصادي بنسټونو د بیا احیا پر لور واړوله او د سعودي عربستان د اقتصادي او اداري بیا ژوندي کېدو کې یې مهم رول ولوباوه (Cleveland & Bunton, 2016).

فیصل د هېواد د پنځه کلنو پراختیايي پلانونو مسوولیت پر غاړه واخیست او د اداري وېش بنسټونه یې تنظیم کړل. د دولتي ادارو د پیاوړتیا لپاره یې له بهرنیو مشورتي شرکتونو مرسته واخیسته. هغه د صنعت، کرنې، ابتکاري پروژو، د

ځمکو پانګونې، د طبیعي سـرچینو او د ځښـاک اوبو د موندنې په برخه کې فعاله ونډه لرله. همدارنګه، د «پترومین» شـرکت په جوړولو کې یې مرکزي رول ادا کړ او د هېواد د برېښنا د ملي شبکې بنسټ یې کېښود. د پټرولیم کیمیاوي موادو، او سپنې، فولادو، سمنټو او کان کېندنې په څېر اساسي صنایع د هغه د واکمنۍ پر مهال وده وکړه (Encyclopaedia Britannica, 2024).

فیصـل د مسـلکي مهارتونو د ارزښـت په درک کولو، لو پدیځو هېوادونو ته د محصـلینو لېږل ملاتړ کړل چې دا کار د صـنعتي پانګونو د ودې لامل شـو (Al-Rasheed, 2010). هغه په ۱۹٦٦ کال کې د امریکا له ولسمشر لینډن بي جانسن سره وکتل او د سـعودي–امریکا همکاري یې پیاوړې کړه. په ۱۹۷۱ کال کې یې له ولسمشر ریچارډ نیکسن سره په واشنګټن کې خبرې وکړې، او په ۱۹۷۳ کال کې د دواړو هېوادونو ګډه اقتصـادي کمېټه جوړه شـوه. په ۱۹۷۴ کال کې نیکسـن لومړنی امریکایي ولسـمشـر شـو چې سـعودي عربسـتان ته سـفر کوي (Riedel, 2017).

د کرنې پراختیا

په ۱۹٦۵ کال کې د سعودي د کرنې وزارت له نړیوالو مشورتي شرکتونو سره د اوبو د سـرچینو د مونـدنې لپـاره جـامع پلان جوړ کړ. د دې پروګرام موخـه د اوبو د سـرچینو منظم لټون و. وزارت د کرنیزو طریقو پیاوړتیا، د مالدارۍ او کب‌نیونې پراختیا، د نباتي ډولونو سـاتنه، د دښـتو د پراخېدو مخنیوی، او د خرما د تولید د ښه‌والي لپاره بزګرانو ته لارښوونې برابرې کړې (Al-Rasheed, 2010).

همدارنګه، د خرما د ساتنې او بستهبندۍ په برخه کې پانګونې ته وده ورکړل شوه. د جيزان بند په ۱۹۷۰ کال کې جوړ شو، او په الاحساء کې د اوبو د سپما لپاره د اوبهخور او ایستلو پروژې پلي شوې. بندونه په ابها، المجمعة او د رياض تر څنګ د وادي حنيفه په اوږدو کې جوړ شول. کرنيزې پانګونې په تبوک، الجوف، وادي سيرهان، القصيم، الافلج، وادي بيشه او نجران کې پيل شوې (Encyclopaedia Britannica, 2024). کرنيز بانک ته لارښوونه وشوه چې بزګرانو او کبنيونکو ته بېسود او اوږدمهاله پورونه ورکړي.

د ترانسپورټ پراختيا

د فيصل تر مشرۍ لاندې، په ټول هېواد کې عصري سړ کونه وغځول شول او د نړيوالو شر کتونو تخنيکي تجربه و کارول شوه. دا کار د سعودي اړيکې له اردن، سوريې، عراق او کويت سره اسانه کړې (Cleveland & Bunton, 2016). د کرنيزو سيمو لارې هم پراخې شوې څو بزګران خپل محصولات بازارونو ته ورسوي.

په هوايي چلند کې، هوايي ډګرونه پراخ شول او د سعودي هوايي شر کت د جېټ الوتکو پېرود وکړ. په جده کې د ملکي هوايي چلند د روزنې مرکز جوړ شو. د جده اسلامي بندر پراخ شو او نوي بندرونه په ينبع او جازان کې جوړ شول، چې ور سره بندري ترافيک ډېر شو (Encyclopaedia Britannica, 2024).

پوځي پراختیا

فیصل د پاچا کېدو وروسته د شاهي هوایي ځواک لپاره جامع ستراتیژي جوړه کړه. د دې لپاره، په ۱۹٦۷ کال کې د ملک فیصل هوایي اکاډمۍ د جوړېدو اعلان وشو او په ۱۹۷۰ کال کې یې رسمي فعالیت پیل کړ (Al-Rasheed, 2010).

په ۱۹٦۵ کال کې یې پر مختللې وسلې واخیستې چې پکې ۴۰ د «لایټنینګ» جنګي الوتکې شاملې وې. په ۱۹۷۲ کال کې یې له فرانسې څخه ۳۹ د «میراژ ۵» الوتکې واخیستې، خو په ۱۹۷۴ کال کې یې دا الوتکې مصر ته ډالۍ کړې، څو د مصر پوځي ځواک پیاوړی شي (Riedel, 2017).

د کودتا مخنیوی

د ۱۹۵۰ او ۱۹٦۰ لسیزو کود تاوو، په ځانګړي ډول د ۱۹٦۹ کال د لیبیا کود تا، سعودي عربستان ته خبرداری ورکړ. له همدې امله، فیصل یو قوي امنیتي نظام جوړ کړ او مخالفین یې سخت وځپل (Al-Rasheed, 2010). هغه د اساسي قانون د غوښتنې په ځواب کې وویل: «زموږ اساسي قانون قرآن دی» (Cleveland & Bunton, 2016.) په ۱۹٦۹ کال کې یې د احتمالي کود تا په تور سلګونه پوځي افسران ونیول.

بهرنۍ پالیسي او د فلسطین ملاتړ

فیصل اسلام د بهرنۍ پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه وکاراوه، خو له امریکا سره یې نږدې اړیکې وساتلې (Riedel, 2017). هغه د کمونیزم سخت مخالف و او له شوروي اتحاد سره یې اړیکې رد کړې.

فیصل د فلسطین د حقونو کلک ملاتړی و، اسرائیل یې په رسمیت ونه پېژانده او د عربي یووالي لپاره یې هڅې وکړې. په ۱۹۶۹ کال کې یې د رباط کنفرانس جوړ کړ چې د اسلامي همکاریو سازمان د جوړېدو لامل شو (Encyclopaedia Britannica, 2024).

د رمضان جګړه او د نفتو سیاست

په ۱۹۷۳ کال کې د عرب–اسرائیل جګړې پر مهال، فیصل د لوېدیځ د ملاتړ پر ضد د نفتو تحریم اعلان کړ او د ۱۹۷۳ د نفتو بحران یې رهبري وکړه. د نفتو بیې تر ۳۰۰ سلنې پورې لوړې شوې، او دې کار فیصل ته د اسلامي او عربي نړۍ پراخ درناوی ور وباښه (OPEC, n.d.; Riedel, 2017).

د شاه فیصل بن عبدالعزیز اصلاحات او اداري تشکیلات

د عربي سرچینو پر بنسټ شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله د سعودي عربستان واک په داسې وخت کې تر لاسه کړ، چې هېواد له مالي بې‌نظمۍ، اداري کمزورۍ او د دولت د تشکیلاتي ګډوډۍ سره مخ و. عربي تاریخپوهان لیکي چې شاه فیصل د واک له لومړیو ورځو دا درک کړې وه چې بې له ژورو اصلاحاتو د دولت بقا او ثبات ناشونی دی، نو ځکه یې اصلاحات د خپلې واکمنۍ بنسټ وګرځول (العثیمین، 2011).

۱. اداري اصلاحات او د دولت بیا تنظیم

شاه فیصل د دولت د ادارو منظم کول خپله لومړنۍ دنده وبلله. د عربي سرچینو له مخې، هغه د وزارتونو تشکیلاتي جوړښتونه بیا وکتل، د مسؤلیتونو حدود یې روښانه کړل او د واک د تمرکز پر ځای یې د اداري همغږۍ اصل پیاوړی کړ. دا کار د دې لامل شو چې دولتي پرېکړې منظمې او اغېزمنې شي (الزرکلي، 2002).

نوموړي د وزیرانو د ټاکنې پر مهال د کورنۍ اړیکو پر ځای وړتیا، تجربه او صداقت ته لومړیتوب ورکاوه. عربي لیکوالان یادونه کوي چې شاه فیصل به ویل: «دولت امانت دی، او امانت اهل ته سپارل کېږي.» دا اصل د هغه د اداري فلسفې بنسټ و (الزبیدي، 2014).

۲. مالي اصلاحات او د بیت المال ساتنه

مالي اصلاحات د شاه فیصل د واکمنۍ له مهمو لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي. عربي سرچینې څرګندوي چې د هغه تر واکمنۍ مخکې د دولت عواید په بې‌نظم ډول لګول کېدل، خو شاه فیصل د بودجې نظام جوړ کړ، دولتي لګښتونه یې محدود کړل او د شاهي کورنۍ شخصي مصرف یې له دولتي بودجې جلا کړ (العثیمین، 2011).

هغه د ټېلو عواید د دولت ملکیت باله، نه د شاهي کورنۍ شخصي شتمني. همدې دریځ د خلکو باور زیات کړ او د دولت مالي بنسټ یې پیاوړی کړ. عربي اقتصادپوهان دا اقدام د سعودي د عصري اقتصاد بنسټ بولي (الریحاني، 2010).

۳. قضايي اصلاحات او د شريعت حاکميت

شاه فیصل د قضايي نظام اصلاح ته ځانګړې پاملرنه وکړه. د عربي فقهي سرچينو له مخې، هغه ټینګار کاوه چې عدالت د دولت ملا ده او بې له عادلانه قضا څخه اسلامي حکومت معنا نه لري. نوموړي د شريعت پر بنسټ د محاکمو سیستم پیاوړی کړ او قاضیانو ته يې بشپړ استقلال ورکړ (الزرکلي، 2002).

عربي تاريخپوهان يادونه کوي چې شاه فیصل هېڅکله د محکمې په چارو کې لاسوهنه نه کوله، حتی که قضیه د شاهي کورنۍ پر غړي هم تطبيق کېده. دا عمل د هغه د عدل او تقوا ښکاره بېلګه ګڼل کېږي (الزبيدي، 2014).

۴. تعليمي او اداري اصلاحات

د زده‌کړې پراختیا د شاه فیصل د اصلاحاتو مهمه برخه وه. عربي سرچينې څرګندوي چې هغه د ښوونې وزارت پیاوړی کړ، ښوونځي يې زيات کړل او د لوړو زده‌کړو بنسټونه يې پراخ کړل. هغه باور درلود چې بې‌له علمه نه اسلامي بيداري شونې ده او نه اداري پرمختګ (العثيمين، 2011).

د نجونو زده‌کړې ته اجازه ورکول د هغه له زړورو اصلاحاتو څخه و. عربي ليکوالان ليکي چې شاه فیصل دا پرېکړه د اسلامي اصولو په رڼا کې وکړه او ويې ويل چې اسلام د علم مخالف نه دی، بلکې د جهل دښمن دی (الريحاني، 2010).

۵. اداري انضباط او د فساد پر ضد مبارزه

شاه فیصل د اداري فساد سخت مخالف و. عربي سرچینې ښیي چې هغه د حساب ورکونې اصل رامنځته کړ او له وزیرانو یې غوښتل چې د خپلو کړنو په اړه ځواب ویونکي وي. نوموړي به ویل: «قدرت پرته له حسابه فساد زېږوي.» دا جمله د هغه د اصلاحپال فکر څرګندونه کوي (الزبيدي، 2014).

هغه د دولتي کارکوونکو لپاره د نظم، وخت پابندۍ او مسلکي اخلاقو معیارونه وټاکل، چې دا کار د ادارو د اغېزمنتیا سبب شو. عربي تاریخپوهان دا پړاو د سعودي اداري دولت د بنسټ ایښودنې مرحله بولي (العثيمين، 2011).

د انجونو د زده کړې اجازه؛ د شاه فیصل د زړورتیا داستان

کله چې شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله واک ته ورسېد، د سعودي ټولنه له دودیز فکر سره ډېره تړلې وه، او د انجونو زده‌کړه د ډېرو خلکو لپاره د منلو وړ موضوع نه وه. عربي تاریخپوهان لیکي چې په هغه وخت کې د ټولنې یو شمېر دیني او قبایلي مشران د نجونو ښوونځي د «فساد دروازې» بلل، او سخت مخالفت یې ورسره کاوه (العثيمين، 2011).

شاه فیصل دا موضوع یوازې تعلیمي نه، بلکې د امت د راتلونکي مسئله ګڼله. هغه به ویل: «هغه مور چې نالوستې وي، نسل نالوستی روزي.» دا جمله، چې په عربي سرچینو کې په بېلابېلو بڼو راغلې، د هغه د فکري لید څرګندونه کوي.

(الريحاني، 2010).

کله چې د انجونو د ښوونځیو د پرانیستو موضوع راپورته شوه، پراخ مخالفتونه پیل شول. په ځینو ښارونو کې لاریونونه وشول او خلکو شعارونه ورکول چې دا کار د دین خلاف دی. عربي تاریخونه یادونه کوي چې په همدې سختو شرایطو کې شاه فیصل د زور کارولو پر ځای د علماوو، منطق او شریعت لاره وټاکله.

(الزرکلي، 2002).

شاه فیصل د هېواد ستر علما راوبلل او ورسره یې اوږدې ناستې وکړې. هغه له هغوی وپوښتل: «ایا اسلام علم د ښځې لپاره حرام کړی؟» علماوو ومنله چې په اسلام کې د علم غوښتنه پر نارینه او ښځه دواړو فرض ده. شاه فیصل همدا دیني اصل د خپلې پرېکړې بنسټ وګرځاوه (العثیمین، 2011).

د عربي روایتونو له مخې، کله چې مخالفتونه لا هم دوام درلود، شاه فیصل په خپله یوه تاریخي وینا وکړه او ویې ویل: که څوک وایي چې د نجونو زده کړه حرامه ده، نو دلیل دې له قرآن او سنتو راوړي؛ که نه، موږ د جهل ملاتړ نه شو کولای. دا وینا د ټولنې پر فکر ژور اغېز وکړ (الزبیدي، 2014).

په پای کې، شاه فیصل د نجونو د زده کړې اجازه ورکړه، خو دا کار یې د اسلامي چوکاټ دننه تنظیم کړ. ښوونځي د اسلامي اخلاقو پر بنسټ جوړ شول، ښځینه ښوونکې وګمارل شوې، او تعلیمي نصاب د دیني ارزښتونو سره سم برابر شو، څو د خلکو اندېښنې کمې شي (الریحاني، 2010).

عربي سرچینې ټینګار کوي چې دا پرېکړه یوازې تعلیمي اصلاح نه وه، بلکې فکري انقلاب و. د همدې پرېکړې له برکته زرګونه نجونې لوستې شوې، ښځینه

ښوونکې، ډاکترانې او متخصصینې وروزل شوې، او د سعودي ټولنې بنسټیز بدلون پیل شو (العثیمین، 2011).

نن د عربي نړۍ ډېری لیکوالان په دې باور دي چې که شاه فیصل دا زړور ګام نه وای اخیستی، نو د سعودي معاصر تعلیمي او اداري پرمختګ به ناشونی و. همدا پرېکړه د هغه د دوراندیشۍ، دین‌پوهنې او جرئت ژوندۍ نښه بلل کېږي (الزبیدي, 2014).

شپږم څپرکی

د اسلامي نړۍ لپاره هڅې

فیصل د فلسطین د ملاتړي نظرونه لرل. هغه په سیاسي ژوند کې د فلسطین د حقونو ملاتړ کاوه او د اسراییل سخت منتقد و (Al-Rasheed, 2010). هغه همدارنګه د کمونیزم ضد و او د هغه په واکمنۍ کې عربستان سعودي د شوروي اتحاد پر وړاندې د امریکا سره متحد پاتې و (Vassiliev, 2013).

فیصل د پان‌اسلامیزم ملاتړی هم و او هڅه یې کوله چې د مسلمانانو ترمنځ یووالی رامنځته کړي. سره له دې، د هغه په واکمنۍ کې د اسلامي روحانیت قدرت کم شو (Al-Rasheed, 2010)

شاه فیصل بن عبدالعزیز رحمه‌الله د اسلامي وحدت له پیاوړو ملاتړو څخه و. هغه باور درلود چې د مسلمانانو کمزوري د تفرقې پایله ده، نو ځکه یې د اسلامي هېوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او فکري یووالي لپاره عملي هڅې وکړې.

د ده په نوښت د اسلامي کنفرانس سازمان (OIC) بنسټ کېښودل شو، چې موخه یې د اسلامي هېوادونو ترمنځ همغږي او ګډ دریځ و. شاه فیصل دا سازمان د اسلامي امت د ګډ غږ په توګه باله، څو د نړیوالو قدرتونو پر وړاندې د مسلمانانو دریځ پیاوړی کړي.(Vassiliev, 2013)

د اسلامي نړۍ لپاره د شاه فیصل بن عبدالعزیز هڅې

١. د اسلامي وحدت نظریه او فکري بنسټ

